بسم الله الرحمن الرحیم

# جریده میــــزان

قـوه قضائیه

د سترې محکمې کاري ځرګندویه خپرونه

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

پنج شنبه ۲۷ غویی ۱۴۰۳ هـ ش | ۷ ذوالقعدة الحرام ۱٤٤٥ هـ ق | ۱۶ می ۲۰۲٤ م | مسلسله شمېره (۶۵)

**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې اېښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زياتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وای نو د نړۍ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کېده.
تفسير کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

## د سترې محکمې محترم رئيس او قاضي القضات لغمان ولايت ته سفر وکړ

د شنبې په ورځ (د شوال المکرم مياشتې په ۲۵مه نېټه) د سترې محکمې رئيس او قاضي القضات محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب د قضائي معاون محترم شيخ محمد قاسم (راسخ) صاحب، د نظامي معاون محترم شيخ خيرجان (خيرخواه) صاحب، د دارالانشاء عمومي رئيس محترم مفتي عبدالرشيد (سعيد) صاحب او د بشري سرچينو عمومي رئيس محترم مولوي سيف الله (اغا) صاحب په ملتيا لغمان ولايت ته سفر وکړ.

په دغه سفر کې ياد پلاوي د لغمان ولايت د مرافعه محکمې له مسؤولينو سره په يوه ناسته کې چې د لغمان ولايت د مرافعه، ښاري او نظامي محاکمو محترمو قضاتو، مفتيانو او محررينو په کې ګډون کړی و، وکتل.

غونډه د قرانکريم د څو مبارکو آياتونو په تلاوت پيل شوه؛ ورپسې د غونډې ګډونوالو په جلا جلا توګه خپل ځانونه معرفي کړل.

د غونډې په دوام د سترې محکمې رئيس او قاضي القضات محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب حفظه‌الله د غونډې ګډونوالو ته خپله عالمانه او با ارزښته وينا وکړه وويل، د محاکمو مسؤولين او منسوبين بايد په ځانونو کې داسې اوصاف پيدا کړي چې له نورو خلکو سره يې ځرګند توپير موجود وي، د مراجعينو او اصحاب دعوی سره بايد له پوره حوصلې څخه کار واخيستل شي؛ ځکه چې په عامو خلکو کې د هر ډول فکر او خاصيت خاوندان موجود وي؛ خو له قاضي سره نه ښايي د هغوی د چلند مطابق عکس العمل وکړي، بلکې په پوره حوصله او حکيمانه توګه به قناعت ورکوي او په داسې شکل به د حکم ابلاغ ورته کوي چې د هغه قناعت حاصل شوی وي چې په حقه دی او که په ناحقه.

دغه راز محترم شيخ صاحب قضاتو ته د لا ښې همغږۍ او له يو بل سره د همکارۍ په اړه ټينګار وکړ د غونډې ګډونوالو ته يې په خطاب کې وويل چې هر يو بايد کوښښ وکړئ هغه چارې چې د نظام د بهتروالي ګټې په کې نغښتې وي په مسؤولانه توګه ترسره کړئ، دا احساس ونه کړئ چې دا زما کار نه دی او د بل چا په تمه يې پرېږدئ.

محترم شيخ صاحب د خپلو خبرو په دوام د غونډې ګډونوالو ته په چارو کې د صداقت او ايماندارۍ په اړه لازمې توصيې وکړې او د ايماندارۍ د ګټو په اړه يې تفصيلي خبرې وکړې وويل، دا د اسلامي نظام د بقا لپاره يو مهم اصل دی.



د غونډې په وروستيو کې د لغمان ولايت د مرافعه محکمې رئيس او د محاکمو مسؤولينو د سترې محکمې د رئيس او قاضي القضات قدرمن شيخ صاحب د راتګ، شفقت او د هغه له ګټورو هدايات او قيمتي ويناوو څخه خوښي ځرګنده کړه وويل، محترم شيخ صاحب په خپل راتګ سره دا ثابته کړه چې وخت په وخت د محاکمو څخه خبر اخلي او څومره زړه سوانده، حليم او د لوړ شخصيت څښتن مشر دی.

ياده غونډه او ليدنه د نظامي معاون محترم شيخ خيرجان (خيرخواه) صاحب لخوا د دعاء په لوستلو پای ته ورسېده.

د يادونې وړ ده چې د سترې محکمې محترم رئيس او قاضي القضات او ورسره مل پلاوي د لغمان ولايت د محاکمو چارې له نږدې بررسي کړې، د دوی اړتياوې او ضرورتونه يې مشخص کړل، د چارو د لا بهبود او په ټاکلي وخت د مراجعينو دوسيو ته د رسېدنې په موخه يې ورته لازم هدايات وکړ.

## د کابل ابتدائيه محکمې اړوند څلورو زونونو په دوو اونيو کې (۴۳۵) دوسيو ته رسېدنه کړې ده

د کابل ښار د ابتدائيه محکمې اړوند څلورو زونونو په دوو اونيو کې له (۱/ ۱۰/ ۱۴۴۵هـ ق نېټې څخه تر ۱۵/ ۱۰/ ۱۴۴۵ هـ ق) نېټې پورې په جزائي، حقوقي او تجارتي برخو کې (۴۳۵) دوسيو ته رسېدنه کړې چې جزئيات يې په لاندې ډول دي.

**په جزائي برخه کې:**

د کابل د ابتدائيه محکمې اړوند څلورو زونونو ته په دوو اونيو کې (۲۰۶) جزائي دوسيې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم يو شمېر دوسيې موجودې وې. له دې جملې څخه (۱۰۵) دوسيې فيصله شوې، د (۴۶) دوسيو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۳۱) دوسيې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسيې تر کار لاندې دي.

**په حقوقي برخه کې:**

د کابل د ابتدائيه محکمې اړوند څلورو زونونو ته په دوو اونيو کې (۹۷) حقوقي دوسيې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم يو شمېر دوسيې موجودې وې. له دې جملې څخه (۱۸) دوسيې فيصله شوې، د (۱۴۵) دوسيو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۲۵) دوسيې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسيې تر کار لاندې دي.

**په تجارتي برخه کې:**

د کابل ښار د ابتدائيه محاکمو څلورو زونونو ته په دوو اونيو کې (۱۱۷) تجارتي دوسيې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم يو شمېر دوسيې موجودې وې. له دې جملې څخه (۱۰) دوسيې فيصله شوې، د (۵۱) دوسيو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۴) دوسيې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسيې تر کار لاندې دي.

**په نبوي دوره کې دځينو قاضيانو يادونه:**

**درېيمه برخه**

او همدارنګه وکيع په خپل سند سره د حضرت علي (رضي الله عنه) څخه بل روايت نقل کړی چې وايي: رسول الله (صلی الله عليه وسلم) زه د يمن خلکو ته لېږم، نو ما وويل: ته ما داسې قوم ته لېږې چې هغوی به زما څخه پوښتنې کوي او ماته هېڅ علم نشته؟ بيا يې وويل: چې رسول الله (صلی الله عليه وسلم) خپل لاس زما په سينې کېښېښودی او وويل: « ان الله سيهدي قلبک، ويثبت لسانک، فاذا قعدر بين يديک الخصمان فلا تقضِ حتی تسمع من الآخر کما سمعت من الأول، فانه أحری أن يتبين لک»يعنې بې شکه چې الله تعالی به ستا زړه په حقه لاره برابر کړي او ستا ژبه او وينا به محکمه کړي او کله چې تاته مخامخ دوه دعوه کوونکي کېښېناستل، نو ژر پرېکړه مه کوه، تر څو د هغه بل جانب څخه دې هم داسې خبرې نه وي اورېدلې لکه څرنګه چې دې د اول جانب څخه واورېدلې او دا کار کول حق ښکاره کېدو ته ډېره نږدې ده.
حضرت علي (رضي الله عنه) وايي: ترڅو چې زه قاضي وم، ماته په قضاء کې هېڅ شک نه دی پيدا شوی.

اخذليک: تتمة النظام، ۴۲ صفحه، تأليف: قاضي القضات شيخ عبدالحکيم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحيم راشد

## پکتیکا ولایت کې یوه متهم ته تعزیري سزا ورکړل شوه

په ۲۳/ ۱۰/ ۱۴۴۵ هـ ق نېټه د پکتیکا ولایت د وازېخوا ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې د پرېکړې په اساس یو تن ته چې په اخلاقي فساد متهم و، (۳۰) دُرې تعزیري سزا ورکړل شوه.

د یادې ابتدائیه محکمې پرېکړه د سترې محکمې د عالي مقام له تائید وروسته پر متهم تطبیق شوه.

## بالای دو متهم در ولایت جوزجان حکم جزای تعزیری تطبیق شد

روز یکشنبه مؤرخ ۱۹ /۱۰ /۱۴۴۵هـ ق به اساس فیصلهٔ محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی قوش‌تپه ولایت جوزجان بالای دو تن که متهم بر سرقت بودند؛ در محضر عام حکم جزای تعزیری تطبیق شد.

محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی قوش تپه از جمله متهمین ذکرشده یک متهم را با یک سال حبس تنفیذی و (۲۲) دُره جزای تعزیری و متهم دیگر را با ضرب (۱۵) دُره محکوم کرده بود؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه بالای متهمین تطبیق گردید.

## بالای دو متهم در ولایت پنجشیر حکم جزای تعزیری تطبیق شد

روز شنبه مؤرخ ۲۵/ ۱۰/ ۱۴۴۵هـ ق به اساس فیصلهٔ محکمهٔ شهری ولایت پنجشیر برای دو تن که متهم بر زنا بودند؛ در محضر عام ۳۹ـ ۳۹ دُره جزای تعزیری داده شد.

در گردهمائی که به همین منظور در محکمهٔ شهری دایر گردیده بود، محترم مولوی عبدالله (سدید) رئیس محکمهٔ مرافعه، ملا شاه ملنگ (روح الله) معاون ولایت پنجشیر، رؤسای محلی، قضات، مامورین محکمهٔ مرافعه و محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری و سایر باشندگان آن محل حضور داشتند.

این نشست با تلاوت چند آیات از کلام الله مجید آغاز گردید؛ سپس محترم مولوی عبدالله (سدید) رئیس عمومی محکمهٔ مرافعهٔ ولایت پنجشیر در باره فلسفه جرم، جزا و نقش تطبیق مجازات در حصهٔ اصلاح مجرم و برگشت آن به جامعه به عنوان شخص عادی در پرتو احکام دین مقدس اسلام بحث مفصل نمود.

در ادامه این جلسه قرائت نص حکم توسط محترم مولوی محمد اکرام (فکور) رئیس دیوان جزا محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری به خوانش گرفته شد و بعداً بالای متهمین حکم جزای تعزیري تطبیق شد.

این جلسه با دعا خیر و فلاح مردم افغانستان توسط شیخ نقیب الله (فرقانی) رئیس محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری خاتمه یافت.

## بالای چهار مجرمین در ولایت بدخشان حکم جزای تعزیر تطبیق شد

به تاریخ ۲۷ /۱۰ /۱۴۴۵هـ ق به اساس فیصلهٔ دیوان امنیت عامهٔ محکمهٔ مرافعهٔ ولایت بدخشان بالای چهار تن که به جرم فروش شراب و تابلیت کا بودند؛ در محضر عام حکم جزای تعزیری تطبیق گردید.

محکمهٔ مربوطه از جمله چهار مجرمین ذکر شده برای یک مجرم یک سال حبس تنفیذی و ۳۵ دُره جزای تعزیری، برای دو مجرم ۳۰ـ ۳۰ دُره جزای تعزیری و برای مجرم دیگر ۳۹ دُره جزای تعزیری حکم کرده بود، که بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه بالای شان تطبیق گردید.

این حکم دیوان امنیت عامه در حضورداشت مسؤولین، متنفذین و مردم عام بالای مجرمین تطبیق شد.

## هیئت محکمهٔ مرافعهٔ نیمروز از توقیف‌خانه های محبس مرکزی، مدیریت مواد مخدر و حوزه پنجگانهٔ امنیتی آن ولایت دیدار نمود

به تاریخ ۲۷/ ۹/ ۱۴۴۵ هـ ق طبق هدایت محترم الحاج مفتی عبدالخالق (محمدی) رئیس عمومی محکمهٔ مرافعهٔ ولایت نیمروز، هیئت تحت ریاست مولوی محمد عیسی (مصباح الله) رئیس دیوان جزا محکمهٔ مرافعه تشکیل گردید و از توقیف‌خانه های آمریت محبس مرکزی، توقیف‌خانه مدیریت مواد مخدر و حوزه های پنجگانهٔ امنیتی شهر زرنج ولایت نیمروز دیدن نمود.

این هیئت در نخست با مسؤولین مذکور دیدار نمود، در خصوص مظنونین و توقیفیان رهنمائی لازم به مسؤولین بخش های امنیتی ذیربط ارائیه نمودند، هدایت دادند تا مظنونین را جهت رسیدگی به قضیه نسبتی شان در اسرع وقت به محکمه ذیصلاح معرفی نمایند، تا از یک طرف از بی سرنوشتی جلوگیری شود و از طرف دیگر بی موجب تحت توقیف قرار نگیرند.

در ادامه این دیدار مسؤولین امنیتی بخش مذکور وعده دادند، تا موافق به اصول امارت اسلامی و اصولنامه های محاکم به آن عمل مینمایند و اجراآت شرعی و اصولی را رعایت خواهند کرد.

## د زابل د مرافعه محکمې عمومي رئیس د میزانې ولسوالۍ له ابتدائیه محکمې څخه لیدنه وکړه

د ۱۴۴۵ هـ ق کال د شوال المکرم میاشتې په ۱۴مه نېټه د زابل ولایت د مرافعه محکمې عمومي رئیس محترم مفتي عبدالجلیل سفیان د یوه قضائي پلاوي په ملتیا د همدې ولایت د میزانې ولسوالۍ له ابتدائیه محکمې څخه لیدنه وکړه.

د مرافعه محکمې پلاوي د لیدنې په پیل کې د میزانې ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې له رئیس او قضائي غړو سره وکتل او د هیئتی په اړه یې د تمیز عالي مقام هدایت ـ باید د محاکمو د چارو د لابښه سمون لپاره له ابتدائیه محاکمو څخه وخت په وخت لیدنه وشي ـ ورسره شریک کړ.

وروسته د میزانې ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې د اداري او قضائي چارو څخه نظارت وشو او د مرافعه محکمې د رئیس په مشرۍ پلاوي د کارونو د لا ښه سمون او خپل مسؤولیت ته د متوجه کېدو په تړاو ورته لازمې سپارښتنې وکړې.

دغه راز یاد پلاوي د محکمې د مربوطه بندیانو په اړه د محکمې له رئیس څخه معلومات وغوښتل او همدارنګه یې د مربوطه ولسوالۍ د توقیف خانې نظارت وکړ چې د محکمې اړوند بندیان په کې نه وو موجود.

په دې سربېره د مرافعه محکمې یاد پلاوي د میزانې ولسوالۍ د ولسوال، د ولسوال مرستیال، امنیه قوماندان، د استخباراتو مدیر، د امر بالمعروف مدیر او د ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې د ټولو کارکوونکو په ګډون د همغږۍ ناسته وکړه.

د مرافعه محکمې رئیس په دې ناسته کې د امیر د اطاعت، د ټولو ادارو ترمنځ د همغږۍ او یو بل ته د همکارۍ په اړه ټینګار وکړ او د یادو مسؤولینو له لوري په دې برخو کې ورته د هر راز همکارۍ ژمنه وشوه.

د میزانې ولسوالۍ مسؤولینو او د محکمې غړو د یاد پلاوي له ورتګ څخه مننه وکړه او ماتحت ادرو ته د مسؤلینو ورتګ یې دکارونو د لابښه والي لپاره ګټور ګام وباله.

## د پکتیا د مرافعه محکمې رئیس د اختصاصي محکمې له غړیو سره غونډه وکړه

په ۹/ ۱۰/ ۱۴۴۵ هـ ق نېټه د پکتیا ولایت د مرافعه محکمې عمومي رئیس الحاج مفتي عبیدالله (خالد) د پکتیا ولایت د اختصاصي محکمې د قاضي مولوي محمد عبدالغفور (حلیم)، قضائي غړي، د پکتیا د عدلیې ریاست، د امارت د قضایاوو د آمر مولوي عبدالجلیل (شاکر) او د یاد آمریت له مسلکي غړو سره په خپل کاري دفتر کې وکتل.

د غونډې په پیل کې د پکتیا د مرافعه محکمې رئیس حاضرینو ته ښه را غلاست ووایه، ورپسې د ناستې ګډونوالو خپلې کاري ستونزې د مرافعه محکمې له عمومي رئیس سره شریکې کړې.

د لیدنې په دوام د مرافعه محکمې رئیس وویل، محاکم مکلف دي چې په خپلو قضائي چارو کې شفافې او عادلانه کړنې تر سره کړي، محاکم باید د هېڅ شخص او ارګان تر تاثیر لاندې نه وي، د افغانستان په سطحه محاکم تل دا هڅه کوي، تر څو عدالت تطبیق کړي او حق حقدار ته وسپاري.

د مرافعه محکمې رئیس د امارتي منقولو او غیر منقولو اموالو د تلف کېدو د مخنیوي په اړه هم ویناوې وکړې، د امارت د قضایاوو آمر او غړي ته یې توصیه وکړه، چې په مشروع او اصولي ډول د امارت له اموالو او املاکو څخه دفاع وکړي ترڅو بیت المال ضایع نشي.

دغه راز محترم مفتي خالد د ناستې ګډونوالو د ستونزو د حل ژمنه وکړه او غونډه په دعاء پای ته ورسېده.

## دکابل د مرافعه محکمې رئیس د ښاري ابتدائیه محکمې له دریېم او څلورم زون څخه لیدنه وکړه

د روان هجري قمري کال د شوال المکرم میاشتې په ۱۴/ ۱۸مه نېټه دکابل ولایت د مرافعه محکمې عمومي رئیس محترم مفتي ذبیح الله (ساجد) د تحریراتو د عمومي مدیر عنایت الرحمن صافي په ملتیا دکابل ښار د ابتدائیه محکمې د دویم زون له پاتې دېوانونو، درېیم او څلورم زون څخه د نظارت او کنټرول په موخه لیدنه وکړه.

په دې لیدنه کې یاد پلاوي لومړی د ابتدائیه محکمې د دویم زون له هغو دېوانونو چې له مخکې نظارت څخه پاتې وو لیدنه وکړه، ورپسې یې د درېیم زون او څلورم زون له ټولو دېوانونو څخه د څارنې په موخه لیدنه وکړه.

په دې لیدنه کې د یادو زونونو په جزائي، مدني او تجارتي برخو کې د ټولو دېوانونو قضائي او اداري چارې وڅارل شوې، د ټولو اداري کتابونو سربېره یې د بیلګې په توګه د هر دېوان څو دوسیو څخه لیدنه وشوه.

محترم مفتي ساجد د دېوانونو مسؤولینو ته هدایت وکړ چې د دوسیو د اوراقو ساتلو په اړه باید ډېر احتیاط وکړئ، خپلو دندو ته په ټاکلي وخت حاضر شئ، د خپلو ماتحت کارکوونکو له اجراآتو څخه تل څارنه وکړئ، د دوسیو نوبت ته باید په جدي توګه پام وکړئ.

دغه راز محترم مفتي ساجد ماتحت کارکوونکو ته هدایت وکړ چې خپلو آمرینو ته د خپلو کارونو راپورونه وخت په وخت وړاندې کړئ، تر څو کارونه په همغږۍ او چټکۍ سره پر مخ لاړ شي.

## د بغلان د مرافعه محکمې رئیس د مرکزي بغلان ولسوالۍ له ابتدائیه او اختصاصي محکمې څخه لیدنه وکړه

په ۲۰/ ۱۰/ ۱۴۴۵ هـ ق نېټه د بغلان ولایت د مرافعه محکمې عمومي رئیس محترم الحاج مولوي محمد یوسف (ابوالوفاء) دکارونو د تعقیب او نظارت په موخه د مرکزي بغلان ولسوالۍ له ابتدائیه محکمې او د یاد ولایت له اختصاصي محکمې څخه لیدنه وکړه.

په دې لیدنه کې د بغلان ولایت د مرافعه محکمې رئیس د بغلان د مرکزي ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې قاضي، مفتي، محرر او د حقوقو مدیر ته د قضائي او اداري چارو د ښه ترسره کولو په برخه کې لاندې هدایات وکړل:

۱. د خلکو عرایضو ته په ټاکلي وخت رسېدنه وکړئ.

۲. د خلق الله کارونه په شفاف ډول په خپل وخت حل او فصل کړئ.

۳. دکارونو د منظم والي او د لا چټکتیا په برخه کې جدي پاملرنه ولرئ.

٤. د محاکمو د اصولو په له مخې د مافوق آمر له اجازې پرته د نورو ادارو هېڅ غړی نشي کولای د محاکمو له قضائي او اداري اجراآتو څخه څار او یا نظارت وکړي.

د لیدنې په دوام د بغلان ولایت د مرافعه محکمې رئیس د اختصاصي محکمې له رئیس او غړیو سره وکتل او جدي سپارښتنه یې ورته وکړه چې د خلکو ستونزې او دعوې د اسلامي اصولو په رڼا کې حل او فصل کړئ او حق حقدار ته وسپارئ.

## د بلخ محاکمو په دوو اونیو کې د (۵۸۵) دوسیو پر حل او فصل سربېره (۳۷۶) وثیقې هم اجرا کړې دي

د بلخ ولایت مرافعه محکمې، ښاري ابتدائیه محکمې، د بلخ زون نظامي محکمې او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په دوو اونیو کې له (۱۱/ ۱۰/ ۱۴۴۵ هـ ق نېټې څخه ۲۳/ ۱۰/ ۱۴۴۵ هـ ق نېټې) د (۵۸۵) دوسیو پر حل او فصل سربېره، (۳۷۶) وثیقې هم اجرا کړې دي، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۳۴۴) حقوقي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۱۰۲) دوسیې فیصله شوې، (۵۸) دوسیې مکتوبي مستردې شوې، د (۲۶۶) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۱۶۰) جزائي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۷۳) دوسیې فیصله شوې، (۲۰) دوسیې مکتوبي مستردې شوې، د (۶۶) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۳۷۶) بېلا بېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم بامیان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی با (۹۲) دوسیه، به تعداد (۱۲) وثایق نیز اجرا کرده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت بامیان، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱/ ۱۰/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۱۵/ ۱۰/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۶۷) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۳۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۷) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۵) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۲) مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۶) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت بامیان به تعداد (۱۲) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## محاکم کاپیسا طی دو هفته به (۱۰۳) دوسیه رسیده گی کرده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت کاپیسا، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۹/ ۱۰/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۲۵/ ۱۰/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش های حقوقی و جزائی به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۵۱) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۵۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۱) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۵۰) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۳) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، (۲۰) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

## د ننګرهار محاکمو په دوو اونیو کې (۳۵۱) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره (۱۹۷) وثیقې اجرا کړې دي

د ننګرهار ولایت مرافعه محکمې، وثایقو، ښاري ابتدائیه محکمې او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په دوو اونیو کې له (۹/ ۱۰/ ۱۴۴۵ هـ ق څخه تر ۲۵/ ۱۰/ ۱۴۴۵ هـ ق) نېټې پورې (۳۵۱) دوسیو ته رسېدنه کړې او (۱۹۷) وثیقې یې هم اجرا کړې دي، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

**په حقوقي برخه کې:**

د ننګرهار ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۱۸۴) حقوقي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۱۷) دوسیې مکتوبي اجرا شوې، د (۹۴) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۳۳) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د ننګرهار ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۱۶۱) جزائي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۲۱) دوسیې مکتوبي اجرا شوې، د (۲۵) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۸۲) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په تجارتي برخه کې:**

د ننګرهار ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۳۵) تجارتي دوسیې واردې شوې دي.

له دې جملې څخه (۳) دوسیې مکتوبي اجرا شوې، د (۶۱) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۵) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د ننګرهار محاکمو په یوه میاشت کې (۱۹۷) بېلا بېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم غور طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۱۸۷) دوسیه، به تعداد (۱۶۵) وثایق نیز اجرا کرده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت غور، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری، محکمهٔ نظامی زون غور و محاکم ابتدائیه ولسوالی ها از تاریخ ( ۱/ ۱۰/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۱۵/ ۱۰/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۱۷) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۶۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۵۳) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۶۴) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۱۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۰) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

در بخش وثایق:

در جریان دو هفته در محاکم ولایت غور به تعداد (۱۶۵) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## محاکم جوزجان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۱۸۵) دوسیه، به تعداد (۲۲۷) وثایق نیز اجرا کرده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت جوزجان، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری، محکمهٔ نظامی، محکمهٔ اختصاصی و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱۶/ ۱۰/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۳۰/ ۱۰/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۷۰) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۳) مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۱۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۰) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۹۸) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۹۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۶) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت جوزجان به تعداد (۲۲۷) وثایق نیز اجرا گردیده است.

## محاکم بغلان طی دو هفته بر رسیدگی به (۴۰۸) دوسیه، به تعداد (۱۸۹) وثایق نیز اجرا کرده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت بغلان، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱۶/ ۱۰/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۳۰/ ۱۰/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۳۰۳) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۲۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۲۴۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۹) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۸۸) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۵۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۴) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت بغلان به تعداد (۱۸۹) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

سرپرست مسؤول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
اډیټور: جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

لا إله إلا الله محمد رسول الله

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه څرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

## د سترې محکمې محترم رئیس او قاضي القضات ننګرهار ولایت ته سفر وکړ

په ۲۳ / ۱۰ / ۱۴۴۵هـ ق نېټه د سترې محکمې محترم رئیس او قاضي القضات شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب حفظه الله د یوه لوړ رتبه پلاوي په مشرۍ ننګرهار ولایت ته سفر وکړ؛ هلته یې د یوې غونډې په ترځ کې د یاد ولایت د مرافعه محکمې له قضائي او اداري کارکوونکو سره وکتل.

یاده لیدنه د قرآنکریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه؛ وروسته د ننګرهار د مرافعه محکمې رئیس محترم مولوي عبدالشکور (رشاد اخندزاده) د هېواد د سترې محکمې محترم رئیس او قاضي القضات او ورسره مل پلاوي ته ښه راغلاست ووایه، ننګرهار ولایت ته یې د محترم شیخ صاحب سفر د محاکمو د چارو د بهبود برخه کې ډېر ګټور اقدام وباله او د محاکمو د اجراآتو په اړه یې بشپړ او هر اړخیز معلومات د سترې محکمې له محترم رئیس او قاضي القضات سره شریک کړل.

د غونډې په دوام د هېواد د سترې محکمې محترم رئیس او قاضي القضات د ننګرهار ولایت د محاکمو له قضائي او اداري کارکوونکو سره د لیدنې پر مهال قاضیانو ته په وینا کې وویل، دا چې قضائیه قوه د افغانستان اسلامي امارت تر ټولو مهم ارګان دی، نو د محاکمو ټولو مسؤولین او منسوبین مکلف دي، چې له عامو هېوادوالو او مراجعینو سره د اسلامي شریعت مطابق ښه چلند او رویه وکړي، د هغوی قضایاوو ته په ټاکلي وخت رسېدنه وکړي، ځکه چې د افغانستان مظلوم ملت د تېرو ادارو پر مهال ډېر زیات ځوریدلی او له اسلامي امارت څخه د عدالت د تأمین هیله لري.

دغه راز محترم شیخ صاحب د ننګرهار د مرافعه محکمې قضائي او اداري کارکوونکو ته هدایت وکړ، چې د هېوادوالو دوسیو ته په شفاف ډول رسېدنه وکړئ، فیصلې یې مه ځنډوئ، له اړوندو ارګانونو سره نېک تعامل کوئ، د اسلامي نظام بقاء د امیر په اطاعت کې ده، نو ټول مشران او کشران د امیر د شرعي امر اطاعت کوئ.

غونډه د هېواد د سترې محکمې د محترم د رئیس او قاضي القضات شیخ صاحب حفظه الله په دعاء پای ته ورسېده.

## جلسهٔ اداری ریاست عمومی تفتیش قضائی ستره محکمه دایر گردید

به تاریخ ۲۳ /۱۰ /۱۴۴۵ هـ ق جلسهٔ اداری تحت ریاست محترم شیخ عبدالرحمن (فراهی) رئیس عمومی ریاست تفتیش قضائی ستره محکمه با حضورداشت محترم مولوی عبدالولی (محمود) معاون ریاست عمومی تفتیش قضائی، اعضای مسلکی و امر تحریرات آن ریاست دایر گردید.

جلسه با تلاوت چند آیات از کلام الله مجید توسط مولوی عبدالوارث (سعید) عضو مسلکی ریاست عمومی تفتیش قضائی آغاز گردید؛ سپس محترم شیخ فراهی برای تمام اشتراککنندگان خوش آمدید گفته و سخنان ارزشمند را ارائیه نمود.

در ادامه این جلسه بمنظور بهتر شدن امورات کاری این ریاست بین اعضای جلسه تبادل نظر صورت گرفت و روی بازنگری لایحه کاری ریاست عمومی تفتیش قضائی نیز بحث و تبادل نظر شد، تا جهت بهبود شدن اجراآت این ریاست یک سلسله تغیرات وارد لایحه کاری به میان آید.

جلسه با دعاء خیر توسط عضو مسلکی این ریاست خاتمه یافت.

## محاکم پروان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۱۳۱) دوسیه، به تعداد (۱۰۲) وثایق نیز اجرا کرده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت پروان، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱۸/ ۱۰/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۳۰/ ۱۰/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۸۵) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۳۰) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۶۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۰) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۵۴) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۴۴) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۸) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت پروان به تعداد (۱۰۲) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## د خوست ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۳۰۵) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره (۱۸۷) وثیقې اجرا کړې دي

د خوست ولایت مرافعه محکمې، ښاري ابتدائیه محکمې، اختصاصي محکمې او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې له (۱/ ۱۰/ ۱۴۴۵هـ ق څخه تر ۳۰/ ۱۰/ ۱۴۴۵ هـ ق نېټې) پورې (۳۰۵) دوسیو ته رسېدنه کړې او (۱۸۷) وثیقې یې هم اجرا کړې دي، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**


په حقوقي برخه کې (۱۸) دوسیې مکتوبي مستردې شوې، د (۸۲) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۶۵) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.


**په جزائي برخه کې:**

په جزائي برخه کې (۲۰) دوسیه مکتوبي مستردې شوې، د (۴۹) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۷۱) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د خوست ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۱۸۷) بېلا بېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.




میزان

د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې
پته: ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

publications.sc۱۴۴۳@gmail.com
www.supremecourt.gov.af

د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳